(فَلْيَضْحَكُواْ قَلِيلاً وَلْيَبْكُواْ كَثِيراً﴿۸۲﴾ سورة التوبة)

# اِبْتَسِمْ

# لږ وخانده!

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: +93779815770

ليکوال: دوکتور عائض بن عبدالله القرني

ژباړن: مولوي محمد غني فاروقي

CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړنې:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | **لړ وخانده!** |
| لیکوال | : | **دوکتور عائض بن عبدالله القرني** |
| ژباړن | : | **مولوي محمد غني فاروقي** |
| کمپوز | : | **عبیدالله فاروقي** |
| ډیزاین | : | **صادق الله صادق** |
| چاپ کال | : | **۱۳۹۳ ل کال** |
| چاپشمېر | : | **۱۱۰۰ ټوکه** |
| د خپرونو لړ | : | **(۲۵۹)** |

**خپرندوی:**

**ګودر کتاب خپرنځی- ننګرهار**

ګودر کتاب پلورنځی، لاندینی پوړ، اسحق زي مارکیټ، بزازی څلورلارې، جلال اباد
اړیکې: ۰۷۹۵۳۵۳۶۱۰-۰۷۹۸۴۸۷۸۷۹-۰۷۹۷۵۰۰۵۰۶
meenasadiqs@gmail.com

**د چاپ حقوق خوندي دي.**

# ډالۍ

هغې ته!
چې د زوی په څېر مینه او ناز يې
پرځان شرعي حق بولم.
هو؛ رقیه فاروقي ته!

م. غ. فاروقي

CamScanner

الحمد لله وحده والصلواة و السلام على من لا نبي بعده.

اما بعد: اللهم صلى على محمد وعلى ال محمد كما صليت على ابراهيم و على ال ابراهيم انک حميد مجيد .

اللهم بارک على محمد و على ال محمد كما بارکت على ابراهيم وعلى ال ابراهيم انک حميد مجيد.

## د خوشحاله ژوند مينه والو!

په مينه او سلامونو مو هر کلی کوم!

خوښ یم، چې یو ځل بیا د خپل زړګي له بڼ نه ستاسو د زړونو پارکونو ته د موسکا له یوې کوچنۍ ګېډۍ ډالۍ سره درځم.

زما لپاره مهمه دا ده، چې ستاسې پر ښکلیو ګلابي شونډو خوږه موسکا خپره او څو شېبو لپاره د غمونو پېټي له اوږو ښکته او په لږې خندا د خپل زړګي مانۍ ته د خوښیو بریښنا وردننه کړئ.

هوکې ګرانو لوستونکو !

ژوند ستر الهي نعمت دی، د خوشحاله ژوند راز لاسته راوړل هم جلا جلا هنرونو ته اړتیا لري.

هو داسې هنرونه، چې پر مټ یې انسان پردې بریالی شي، چې د ژوند ناوې ته د خوشحالۍ ښکلی ګلوزین او رنګین شال وربه سر کړي.

دا راز د هر څه وړاندې په سپېڅلي ایمان او عمل صالح سره د خپلولۍ ژوره اړیکه لري، هغه په دې مانا که انسان د ایمان او عمل صالح پرګاڼه سینګار وي، نو الله تعالی قران کریم کې ژمنه کړې، چې د ایمان او عمل صالح خاوند نارینه که ښځینه وي ښکلی او ښایسته ژوند به ورکوم او د دې سربېره به یې پر اخروي بدلو هم نازوم.

همدې اصل ته په پام که غواړئ، چې په دنیا او اخرت کې د ښکلي ژوند له ستر نعمت نه د خوشحالۍ سره مله برخمن شئ، نو د ایمان او عمل صالح زرینه جوړه مو درخپله کړئ، کله مو چې د ایمان او تقوا پر مانیز پوښاک ځان سینګار کړ، بیا نو د اسلام په روښانه تګلاره کې تاسې ته د ډېرې ژړا ترخڼک د لږې خندا اجازه هم درکړې شوې.

د کایناتو خالق د رڼا په کتاب قران کریم کې مؤمنانو ته پیغام را استولی:

﴿فَلْيَضْحَكُواْ قَلِيلاً وَلْيَبْكُواْ كَثِيراً﴾﴿٨٢﴾ سورة التوبة

ژباړه: ((اوس په کار ده چې دا خلک خندا کمه کړي او وژاړي زيات.))

هو دا سمه ده، چې ژوند یوازې د ژړا لپاره نه دی، خو دا هم ناسمه ده چې ټول ژوند دې د غفلت په شېبو کې د خندا، نشو او تماشو ښکار شي.

اسلام د اعتدال دین دی، په هر څه کې د منځلاریتوب پلوي کوي، څکه نو سورت النجم کې په څرګندو الفاظو مهرباني کوي.

﴿وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَى﴾﴿٤٣﴾ سورة النجم

ژباړه: ((یانې هغه خوشحالي او خپګان پیدا کړي.))

کله چې دا دواړه جوړې د انسان سره د ژوند په سفر کې ملګري وي؛ نو پکار ده، چې هر یوه جوړه په خپل خپل ځای کې د قران کریم او نبوي مقرراتو په رڼا کې وپالي.

اوس، نو اړینه ده؛ چې له هغې خندا ځان وساتو، کومه خندا چې زړه وژني او د مخ رونق او ځلا له منځه وړي او هم خندا (موسکا) د خپلو شونډو ګاڼه جوړه کړو، چې د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم مبارکه څېره پرې ډېره ښکلې وه، تل به یې پر مبارکو شونډو خوږې موسکا مستي کوله، د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم پر ګلورینې څېرې د موسکا ځلېدل، هغه ستر نعمت و، چې ډېر ځلې پرې نامسلمو د خپلو تیاره زړګیو کوټونو ته د ایمان پلوشې ورسولې.

هو! دا ستر پیغمبري اخلاق و، خلکو به ورته بېلا بېل ضررونه رسول، ډول ډول ازار به یې ورکاوه، هغه مبارک صلی الله علیه وسلم به ویل: ای الله! زما قوم ته هدایت وکړې، دوی نه پوهېږي.

نااهله کلیوال به راغلل، د هغه د غاړې ځادر به یې دومره راښکه، چې نبوي ښکلې غاړه به یې ژوبله او زبانمنه کړه؛ خو د رحمت نبي صلی الله علیه وسلم به د هغه ځواب پر نبوي موسکا ورکاوه، له دې سره سره به یې هغه کس ته د بخشش او ډالیو د ورکړې امر کاوه.

محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د رحمت، مینې او مهربانۍ پیغمبر و، د ژوند په ۶۳ کلن پړاو کې به یې تل د ستونزو سره په سړه سینه مبارزه کوله.

زیار به یې وسته، چې نورو ته د مینې، خوښۍ او موسکا درس ورکړي، له ژوند سره یې مینې ته راوبولي او هم به یې د اپیغام خپراوه، چې: ((ستا په مخ کې ستا د ورور لپاره تبسم او موسکا ستا لپاره ډالۍ ده)).

همدې اصل ته په پام، چې درنو ورونو او خوېندو ته مو د لړې خندا یا موسکا ارزښت په ښنبه کړی وي.

او دوی مو پردې پوهولي وي، چې موسکا د انساني ژوند په نړۍ کې د روح لپاره ډاډ او ګټوره نسخه ده.

د عربي نړۍ ستر عالم او لیکوال دوکتور عائض بن عبدالله القرني د لوی کتاب (ابتسم) نه مو د ګوتو په شمېر څو ټوکې ګرانې پښتو ته راوژباړلې، چې له یو پلوه خورا ګټورې او له بل پلوه د سنګینې موسکا پر ګانه سینګارې دي.

په دې هیله چې ستاسو د سینو په پنجیرو کې بندو غوښنو زړګیو ته د خوښۍ او ازادۍ پیغام ورکړي.

په درنښت

مولوي محمد غني فاروقي- جلالکوټ

۱ - ۱۰ - ۱۳۹۳ لمریز کال

## د ژباړن چاپ کتابونه:

- جنت
- الشفاء
- الشهید
- مرغلرې
- د قبر شپه
- سل دعاګانې
- اسانه لمونځ
- د معراج شپه
- د لمر وړانګې
- د ایمان جوړه
- لږ وخانده! (ژباړه- همدا اثر)
- د شوګیرو ملګری (شعري غورچاپ)
- لږ عمل ډېر ثواب، لږ عمل ډېر عذاب.
- دغه ګل دی دغه خار (د عبدالرحمن بابا شعري غورچاپ).

## ناچاپ کتابونه:

- عملنامه
- عاشق (ژباړه)
- اووه شپې او اته ورځې؟!
- له ژوند سره مینه وکړئ!
- د جانان د خوبولو سترګو یاده.

# په ورین تندي هرکلی وواياست!

اسلام له نورو خلکو سره د اخلاقي چال چلن تر ټولو ښه دا سپارښتنه هم کوي، چې خبرې مو نرمې وي، کوښښ وکړئ، نرمه او زړه راښکونکې لهجه وکاروئ، له نورو سره په مخامخېدو دې ستاسې تندې پراخه او پر شونډو مو دې خوږه موسکا خوره وي، چې په دې ډول د خلکو زړونو ته لارې پیداکړای شئ او د خپل اخلاقي چلن له مخې د هغوی پر زړونو واکمني وکړئ.

اسلام په دې لار کې ډېر پراخه دريځ لري، تر دې چې مؤمن کولای شي، د شرعي مصلحت دلاسته راوړلو لپاره کله هم له داسې کسانو سره چې له اخلاقي او عملي پلوه کمزوري وي، نرم او اخلاقي چال چلن وکړي.

امام بخاري رحمه الله د ام المؤمنين عائشې رضی الله عنها په روايت حديث نقل کړی، وايي: «أَنَّ رَجُلًا اسْتَأْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا رَآهُ قَالَ: «بِئْسَ أَخُو العَشِيرَةِ، وَبِئْسَ ابْنُ العَشِيرَةِ» فَلَمَّا جَلَسَ تَطَلَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطَ إِلَيْهِ، فَلَمَّا انْطَلَقَ الرَّجُلُ قَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، حِينَ رَأَيْتَ الرَّجُلَ قُلْتَ لَهُ كَذَا وَكَذَا، ثُمَّ تَطَلَّقْتَ فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطْتَ إِلَيْهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا عَائِشَةُ، مَتَى عَهِدْتِنِي فَحَّاشًا، إِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَ اللَّهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ القِيَامَةِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ شَرِّهِ»[1]

ژباړه: يو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ورتللو اجازت وغوښت، چې هغه مبارک وليد، ويې ويل: (بِئْسَ أَخُو العَشِيرَةِ وَبِئْسَ ابْنُ العَشِيرَةِ). يانې: د بدې کورنۍ ورور يا د ناكاره كاله زوی دی.

[1] صحيح البخاري(٨ / ١٣).

CamScanner

چې کېناست، رسول الله صلی الله علیه وسلم په ورین تندي وکتل او د هغه په خبره یې په مبارکه او موسکانده څېره کې ورته څه بدلون رانغی، خو چې هغه سړی روان شو، ام المؤمنین عائشې رضی الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ووېل: ای د الله تعالی رسوله! سړي ته دې پام و، چې څه څه یې ووېل؟ او سره له دې چې تا ورسره په ورین تندي چال چلن وکړ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ووېل: عائشې! رضی الله عنها ته ووېل: زه تا کله بَد ژبی لیدلی یم.

یقیناً د مقام او منزلت له پلوه به بدترین د قیامت په ورځ د الله تعالی په نزد له خلکو هغه څوک وي، چې خلکو د هغه له شر او بد خویۍ نه د ژغورنې له امله پرېښی وي.

له حدیث نه څرګندېږي، چې کله کله به د فاحشو او بدخویه انسانانو له شر څخه د ځان ساتلو په موخه ورسره پراخه ټنده کاروې، کله به داسې هم کېږي، چې شریر او بدترین خلک به په ژبه تا ټیې کوي، داسې خبرې به کوي، چې ستا شخصیت او انساني کرامت به ګوابني، خو ته به نبوي تعامل ته په پام په خاموشۍ او موسکانده څېره ځواب ورکوې.

یو شاعر هم وایي:

پټه خوله د سړي سل عیبونه پټ کـــــړي
د هوښیارو خلکو ټینګ د خولې جلب وي[1]

[1] له ژوند سره مینه وکړئ، له کتاب څخه

# نور په مینه
# او موسکا ونازوئ!

پر اسلام کې دې موضوع ته هم پاملرنه شوې ده، چې مسلمانان څنګه خپلمنځي مینې او هم غږي ته وده ورکولای شو.

چې د دوی د زړونو ترمنځ د مینې او ژمنتیا پر بنسټ همغږي رامنځ ته شي او د زړونو د همدغه مانیز ائتلاف په رڼا کې یو بل ته د مرستې لاسونه وغځوي، یو د بل پر خپګان او خواشینۍ خپه او د خوښۍ او خوشحالۍ ورځې شپې سره په ګډه ونمانځي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم همدې روحیې ته اسلامي امت هڅولی او د همدې روحیې د پیاوړتیا لپاره یې مؤمنان پخپلو کې د یو بدن له غړیو سره ورته ښودلي، د عبدالله بن عمر رضی الله عنه حدیث د دې موضوع تایید لپاره تر ټولو غوره بېلګه ده.

الله تعالی ته په خلکو کې تر ټولو منلی او ګران هغه څوک دی، چې خلکو ته ګټور وي او الله تعالی ته ګرانه په چارو کې هغه خوشحالي ده، چې د مؤمن زړه ته یې ورننباسي، خو سوال دا دی، چې دا څنګه کولای شو؟

د هغه نه مشقت او کړاو لرې کړه یا یې پور پرې کړه، یا یې لوږه لرې کړه.

ماته په جومات کې تر یوې میاشتې اعتکاف نه، مسلمان ورور د اړتیا د لرې کولو غوره او منلي دي.

چا چې د خپلې غوسې مخنیوی وکړ، الله تعالی به پرې پرده واچوي، څوک چې خپله غوسه وزغمي، الله تعالی به یې زړه د قیامت د ورځې له امید نه ډک کړي او څوک چې د خپل مسلمان ورور حاجت لرې کړي او پر حاجت لرې کونه ټینګ پاتې شي، الله تعالی به یې قدمونه پر هغه ورځ ټینګ او ثابت کړي، چې قدمونه پکې ښویږي.

دغو نبوي لارښوونو ته په پام سره ویلای شو، چې له مسلمانانو سره په پراخه ټنده او موسکاندو شونډو مخامخېدل د زړونو په لاسته راوړلو کې تر ټولو ستره او مجربه وسیله ده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د پراخې ټندې ارزښت ته داسې اشاره کوي:

(«لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا، وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ»[1])

(له نېکۍ څخه هېڅ څیز کم او حقیر مه ګڼه، که څه هم چې له خپل مسلمان ورور سره په پراخه ټنده مخامخېدل وي.)

عبدالله بن الحارث رضی الله عنه وایي:

(«مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»[2])

(ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه زیات موسکاند بل څوک نه دی لیدلی.)

او جریر رضی الله عنه وایي:

(مَا حَجَبَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ، وَلاَ رَآنِي إِلَّا تَبَسَّمَ فِي وَجْهِي[3])

(له ما نه رسول الله صلی الله علیه وسلم زما له مسلمانېدو راهیسې پرده نه ده کړې او ماته یې بې موسکا لیده نه دي کړي.)

[1] صحیح مسلم (۴ / ۲۰۲۶).
[2] سنن الترمذي ت شاکر (۵ / ۲۰۱).
[3] صحیح البخاري (۴ / ۶۵).

عائشه رضی الله عنه وايي: «ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په دومره ډېره خندا نه دی لیدلی، چې د خولې دننه ژبګی (تالو) یې ښکاره شي، بلکې هغه صلی الله علیه وسلم به تشه موسکا کوله.»[1]

د اسلام ستر استازي (صلی الله علیه وسلم) څوارلس پېړۍ وړاندې له نورو سره د مخامخېدو په مهال د پراخې تندې، موسکا او خوشحالۍ حکم کړی دی.

اوسني ارواپوهان هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونو ته په پام سره وايي:

«په ورځني ژوند کې مخامخېدونکی په یوه ښه پیغام، خبره، ادا او موسکا ونازوه، د مینې تخم په زړونوکې وکره، چې درمند مینه او صفا واخلې.»[2]

---

[1] صحیح البخاري (۳/۱۵۴).
[2] د فکر ټکنالوژي، مخ: ۵۲.
یادونه: دا او پورته لیکنه مې له خپل راتلونکي کتاب (له ژوند سره مینه وکړئ) څخه را اخیستې دي.

## ساده

یوساده ډولي سړي د خپل دوست د واده خوړې ته وربلل شوی و خلکو خوراک کاوه او دې پر دېوالونو ځړول شویو پردو ته په لیدو هک پک ناست و .

چا ترې پوښتنه وکړه ولې خوراک نه کوې ؟

ساده وویل : والله دې اوږدو اوږدو پردو ته فکر وړی یم چې په دې وړکی دروازې دا څنګه دې کور ته ننوتي دي .(۲۹ص)

## کلیوال

یو کلیوال په داسې حال کې جومات ته ننوت چې امام خطبه ویله ، جومات کې د ناستو خلکو یو کس نه پوښتنه وکړه دا خلک څنګه راټول شوي ؟

هغه وویل : د واده خوړې ته بلل شوي .

کلیوال وویل : دا منبر والا څه وایې ؟

هغه سړي ورته وویل : دی وایې اطرافي او کلیوال خلک واده کې یوازې په دې نه راضي کیږي چې د واده ځای کې ډوډی وخوري ترهغې چې څه خواړه له ځانه سره کورته یونسي،

کلیوال دخلکو پراوږو پښې اړولې تردې چې ځان یې خطیب ته ورساوه ورته یې وویل:صاحبه !

دا ته چې څه وایې دا کار زمونږ کم عقل خلک کوي.

# بیا مړشو

یو کس دیو ناروغ پوښتنې ته ورغی،ویې ویل :د اندېښنې وړ خبره نه ده کله مو چې داسې ناروغ لیده لاسونه ترې ومینځی. ځکه زما پلار هم په دې ناروغۍ اخته و او بیا مړ شو .

# بې ځوابه قاضي

وایې چې یو کس د قاضي سواربن عبدالله په وړاندې گواهۍ‌ته وړاندې شو.

قاضي وپوښتل ، تاسو څه کار کوئ ؟

گواه وویل : د کوچنیانو معلم یم

قاضي وویل : موږ د کوچنیانو د پالونکي گواهي نه منو ځکه دی دقران کریم پر تعلیم اجرت اخلي .

معلم وویل : ته د مسلمانانو تر منځ پر قضا او پرېکړو اجرت اخلې .

سوار وویل : زه د قضا پر څوکۍ پر زور گمارل شوی یم .

معلم وویل : سمه ده دا به درسره ومنم خو د مال او پیسو پراخیستلو هم په زور گمارل شوی یې ؟

قاضي سوار بې ځوابه پاتې شو .

ویې ویل : سمه ده گواهي مو ورکړئ . (۳۷ص)

# د طائف زمکې

معاويه رضی الله عنه عبدالله بن عباس رضی الله عنه ته وويل : زه تا ته يو حاجت لرم که يې پوره کوې ؟

ابن عباس رضی الله عنه ورته وويل : سمه ده پوره به يې کړم .

ابن عباس ورته وويل : اميرالمؤمنينه ! ووايئ څه حاجت لرئ ؟

معاويه وويل صاحبه : د طائف کورونه او زمکې دې ماته راکړه .

ابن عباس وويل : سمه ده درمې کړې .

معاويه ورته وويل : عبدالله! تاسو خو خپلوي وپالله اوس نو تاسو خپل حاجت ووايئ ؟

ابن عباس وويل : اميرالمؤمنينه ! زما حاجت دادی چې د طائف زمکې او کورونه بېرته ماته راکړئ؟

معاويه وويل : سمه ده درمې کړې.

# دا شعبي دی

وايې چې يوکس جومات ته ننوت ګوري چې ستر امام شعبي رحمه الله جومات کې ناست دی او مېرمن يې هم څنګ ته ناسته ده ، دغه سړي شعبي نه پېژنده پوښتنه يې وکړه تاسو کې کوم يو شعبي دی ؟ شعبي خپلې مېرمن ته اشاره وکړه ويې ويل دا شعبي دی . (۲۹ص)

# کومه گوته

امام شعبي نه يو ناسته کې چا ددې حديث په اړه پوښتنه وکړه :
(پيشنمی وکړئ که څوک د خوراک لپاره نور څه نه لري خپله گوته دې په خاورو ولړي او خوله کې دې يې ننباسي .
هغه کس وويل : کومه گوته؟
امام شعبي د خپل لاس غټه گوته ونيوله ويې ويل دا گوته دې په خاورو ولړی او خوله کې دې يې ننباسی .
يادوونه :په دې سره يې د حديث ناسموالي ته اشاره وکړه .

# کم عقل

يوښاري سړي له ستر عالم شعبي نه پوښتنه وکړه که يو سړی مخکې له دې د کوچني اختر لمونځ ادا کړي چې لا يې خپلې کورنۍ ته څه خواړه خواړه له بازاره نه وي رانيولي کفاره يې څه ده ؟
امام ورته وويل : کفاره يې داده چې دوه درهمه به خيرات کړي هغه سړی روان شو او لاړ .
چا امام ته وويل : دې کې د کفارې څه خبره ده ؟
امام وويل : هېڅ پروا نه کوي،دداسې کمل عقل په خيرات خوړلو د فقيرانو زړونه خوشاليږي . (۴۰ص)

# ړوند؟

امام مجاهد وايې : شعبي په داسې حال کې حمام ته ننوت چې داؤد ((ازدي)) پکې د لنگ پرته بربنډ ولاړ و .

امام شعبي سترگې پټې کړې .

داؤد وويل : ابو عمره ! له کله راهيسې ړوند شوی يې ؟

امام شعبي وويل : له هغه وخته چې ته بې شرمه شوی يې .

# شاهي ماڼۍ

يوه ورځ د طفيلي مخې ته يوه ډله تېره شوه، ده گومان وکړ، چې دوی چېرې واده ته روان دي، دی هم ورپسې روان شو ، گوري چې هغوی د بادشاه شاهي ماڼۍ ته ورننوتل، دی هم ورسره ملگری شو، دا د شاعرانو ډله وه چې د بادشاه په ستاينه کې يې قصيدې جوړولې، شعرونه يې ويل ، کله چې هريو بادشاه ته د غوره مالۍ شعر واوراوه او هر يو خپلې درباري ډالۍ ترلاسه کړه.

يوازې طفيلي پاتې شو، دی ناست و او هېڅ يې نه ويل ورته وويل شو:طفيلي شعر دې ووايه !

ده وويل:زه شاعرنه يم.

هغوی ورته وويل : چې شاعر نه يې نو څوک يې؟

طفيلي وويل: زه د هغو گمراهانو له ډلې څخه يم چې الله تعالى يې په اړه ويلي:(وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ٱلْغَاوُونَ﴿٢٢٤﴾ سورة الشعراء)

ژباړه:((پاتې شول شاعران په هغو پسې غوليدلي گمراه شوي خلك ځي.))

# د هنر خواړه

وایې چې طفیلي یوه ورځ د واده کور ته ورغی، دکور دننه مېلمنو ته دسترخوان غوړېدلی و او د ډوډۍ خوړلو لپاره ډلې ډلې مېلمانه ورننوتل ، دروازه کې د شتمنو د عادت مطابق یو سړی ولاړ و چې طفیلي یې له ورتللو منع کړ ، طفیلي لاړ ،بېرته په داسې شکل کې راوګرځېد چې یو پنه یې ویستلې وه هغه یې لستوني کې دننه ننویستې وه او بله هغه یې لاس کې اچولې وه .

او دغاښونو په ډکي یې د غاښونو خلال کاوه ګوا چې ډوډۍ یې خوړلې دروازې ته ورغی دروازه یې وټکوله دروازې ته ولاړ سړي ورته وویل : څه خبره ده ؟

طفیلي وویل : لږه شېبه مخکې له همدې کوره ووتم خو دلته مې رانه یوه څپلۍ پاتې شوې هغې پسې ورځم چې یې راوخلم .

څوکیدار ورته وویل : څه ننوځه .

طفیلي ننوت خلکو سره یو ځای یې ډوډۍ وخوړه بیا راووت.(۴۲ص)

# بې فرشه کور

یو بخیل سړي د خپل ژوند عملي کیسه داسې کړې دی وایې چې یوه ورځ زموږ مخې ته جنازه تېره شوه زما کوچنی زوی هم راسره ولاړ و ، جنازې سره یوه مېرمن هم روانه او په چیغو چیغو یې ژړل او په ژړا کې به یې داسې ویل : اوس به دې داسې کور ته یوسي چې نه په کې فرش او بستره شته نه په کې پردې او نه پکې ډوډۍ او اوبه شته .

بخیل وایې:زوی مې راته وویل : پلاره ! دا لکه چې زموږ کور ته وړي.(۴۳ص)

# درې ببنل شوي

یو کس د خپلې سیمې ستر دینې عالم ته ورغی ترې یې وپوښتل :
زه چې کله په سیند کې لامبم دوه یا درې ځلې اوبو کې غوپه ووهم بیا مې هم دا یقین نه کېږي چې ما په اوبو کې غوپې وهلي او نه مې دا یقین کیږي چې زه دې له جنابت نه پاک شوی یم نو څنګه وکړم ؟
عالم ورته وویل : چې داسې ده نو لمونځ مه کوه .
چا عالم ته وویل : دا څه مو وویل ؟
عالم وویل : څکه محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ویلي :
له درې کسانو څخه قلم پورته شوی یعنې دوی معاف دي له کوچنې نه ترهغې چې بالغ شي له لېوني نه تر هغې چې هوښیار شي او له ویده نه تر هغې چې لا بېدار شي .
او څوک چې یو ځل ، دوه ځلې یا درې ځلې په سیند کې غوپې ووهي بیا هم داسې ګومان کوي چې غسل یې وتلی نه دی نو دالېونی دی.(۴۵ص)

# دلرګي تسبیح

یو فقهي عالم په یو کور کې په کرایه اوسېده هر وخت به دکوټې د چت لرګیو نه دټکار اواز پورته کېده لکه لرګي چې ماتیږي ، د کور خاوند د کرایه پیسو پسې راغی ، فقهي عالم ورته وویل : دا د کوټې چت مو جوړ کړئ چې هر وخت یې لاړي ټکیږي .
کور والا وویل : مه وېرېږه دا دالله تعالی تسبیح وایې .
عالم ورته وویل : تسبیح خیر دی خو وېرېږم چې د الله تعالی له وېرې په سجده نشي . (۴۷ص)

# د جامو قبله

یو کس له عالم نه پوښتنه وکړه ، کله چې زه جامې و باسم او نهر ته د لمبلو لپاره کوز شم قبلې ته مخ کړم که بل لور ته ؟
عالم ورته وویل : خپلو جامو ته مخ کړه چې څوک یې درنه غلا نه کړي.

# بدرنګ مېړه

وایې چې د یوې ښځې پر ګېډه ماشوم ؤ ، خاوند یې ډېر بدرنګ و یوه ورځ یې د خپل خاوند د مخ بدرنګۍ ته په غور سره وکتل ویې ویل :تباهي او مرګ د ی ما لپاره که زما په ګېډه کې ماشوم تاته ورته وي .
خاوند یې وویل : بلکې تا لپاره تباهي او مرګ دی که ستا په ګېډه ماشوم ماته ورته نه وي .

# بړبوکۍ

وایې چې یو ځل ډېره سخته سیلۍ راوالوته خلک راغونډ شول الله تعالی ته یې د عا ګانې کولې،توبې یې ویستلې .
ابوالغصن پرې چیغه کړه ، ای خلکو ! په توبه کې بیړه مه کوئ .
دا بړبورکۍ ده اوس به ارامه شي . (۵۲ص)

## تګي

وایې چې فلاح په نامه یو سړي خپل مېرمن ته وصیت کې وویل : مېرمنې ! که زه مړ شوم نو زموږ له ګاونډي سره به واده وکړې ، هغې وویل : ولې ؟

خاوند یې وویل : یو ځل یې راباندې غوا خرڅه کړې وه او راسره یې پکې تګي کړې وه .

زه غواړم چې د هغې غچ ترېنه واخلم . (۵۲ص)

## ته یې خنګه خوښ کړې؟

وایې چې یوه ورځ ستر عالم اعمش له کوره په خندا راووت .

ملګرو ته یې وویل : پوهېږئ ولې خاندم ؟

هغوی وویل : نه .

اعمش وویل : کور کې ناست وم ، لورکۍ مې مخ ته ځیر وه او په ډېر غور غور یې زما مخ ته کتل

ماورته وویل : لورجانې! څنګه مې مخ ته ځیر یې ؟

راته یې وویل : پلارجانه ! دې ته حیرانه یم چې زما مور ته څنګه خوښ کړی یې .(۵۴ص)

## کم عقل

یو کس امام شعبي نه وپوښتل ، دهغه چا په اړه څه نظر لرې چې د رمضان د میاشتې په لومړۍ ورځ ماته کنځلې کړې بدله به ومومي ؟

امام شعبي ورته وویل: کم عقله ! که تاته یې کړې وي امید دی چې بدله به ورکړای شي .

# غم مو ستر شه

وايې چې دابن عياش مور وفات شوې وه .
سيفويه ورته د فاتحې او غمرازۍ لپاره ورغی ورته یې وويل : ابومحمد ! الله تعالی دې ستاسو غم او مصيبت ستر کړي ، د ابن عياش په شونډو مسکا خپره شوه ويې ويل : دا کار شوی، بيا يې وويل:ابو محمد ه!ستاسومورکۍ زوی درلوده؟
ابن عياش د تعزيې له مجلس نه پاڅېد هومره يې وخندل چې ستوني ساخت پريواته . (۵۸ص)

# د بې وزلو رسول

يو ورځ سهار وختي اعمش له خپله کوره ووت د بني اسد قبيلې په جومات تېرېده مؤذن دلمانځه لپاره اقامت وکړ جمع ودرېده ، اعمش جومات ته ننوت لمانځه کې ورسره شريک شو، امام په لومړي رکعت کې سورت بقره پيل کړه، بيا يې په دويم رکعت کې آل عمران سورت ولوست کله يې چې سلام وګرځاوه.
اعمش ورته وويل: الله تعالی نه نه وېرېږې؟
تا د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا حديث نه دی اورېدلی:څوک چې خلکو ته امامت کوي، نو له اسانۍ دې کار اخلي، ځکه له ده پسې بوډا ، کمزوري او اړمن کسان ولاړ وي.
امام وويل، الله تعالی ويلي:(وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلاَّ عَلَى ٱلْخَاشِعِينَ﴿٤٥﴾ سورة البقرة).

ژباړه:((په دې کې شك نشته، چې لمونځ يو ډېر سخت كار دی، خو هغو امر منونكو بنده ګانو ته سخت نه دی.))
ستر محدث اعمش ورته وويل : زه تاته د خاشعينو (بې وزلو ) رسول يم، ځكه چې ته په خلكو سختي راوړونكی يې. (٦٠ص)

## كوډګر

يو كليوال له چانه د پيسو هميانۍ (كڅوړه) غلا كړې وه چې درهمونه پكې و له غلا وروسته جومات ته د لمانځه لپاره ننوت ، ددې غل نوم موسى و ، امام د لمانځه په قرأت كې دا ايت ولوست:(وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ﴿١٧﴾ سورة طه)
ژباړه:((څه دي ستا په ښي لاس كې يا موسى.))
كليوال امام ته وويل:والله ته كوډګر يې د پيسو هميانۍ يې جومات كې وغورځوله او له جوماته ووت.(٦٠ص)

## ډاكتر او قبر كيندونكی

وايې چې عيسى بن زيدالمراكبي ډېرخوش اخلاقه انسان و .
دی وايې زما يو غلام و ډېر تنبل و يوه ورځ مې بازار ته د انګورو او اينځرو اخيستلو پسې واستاوه هلته ډېر و ځنډېده او واپسۍ كې يې يوازې انګور راوړ ، ورته مې وويل : هم و ځنډېدلې او هم دې له دوو كارونو څخه يو كړی او بل دې پرېښی ، ډېر مې وواهه .
ورته مې وويل : نن نه وروسته چې زه دې يو كار پسې لېږم ته به دوه كاره كوې ، ډېره موده لا نه وه تېره شوې چې زه ناروغ شوم.
ورته مې وويل: لاړ شه په بيړه ډاكتر راوله ، لاړ ډاكتر يې راوست او له ډاكتره سره يې يو بل كس هم راوست .

ورته مې وویل:دا ډاکتر خو پېژنم خودا بل کس څوک دی ؟
غلام راته وویل: ډاکتر مې ستا د معائنې لپاره راوستی که دښه کېدو امېد دې وي ښه ده
که نه نو دا بل قبرکن دی قبربه درته تیار وباسي .(۶۲ص)

## د ثواب په نیت

یو سړی په یو کلي تېرېده ګوري چې د کلي خلکو یو کس را ایسار کړی او ټول یې وهي دې کس د وهونکو له ډلې نه یوکس څخه پوښتنه وکړه .
دې کس څه ګناه کړې ده ؟
هغه وویل : زه هم والله که پوهېږم ، خو دوی مې ولید چې دا سړی یې واهه ماهم ورسره په وهلو پیل وکړ که الله تعالی مې په دې وسیله وبښي . (۶۵ص)

## عاشق

یو سړي د لویز استوګن ابن اغلب ته ورغی ورته یې وویل :
یوې جلکۍ باندې مئین شوی یم او قیمت یې پنځوس دیناره دی اوماسره یوازې دېرش دیناره دي، ابن اغلب ورته سل دیناره وبښل یو
بل کس دا خبره واورېده راغی ویې ویل :
زه عاشق یم ابن اغلب ورته وویل : څه لرې ؟
هغه وویل : د عاشقۍ اور
ابن اغلب امر وکړ دا په اوبو کې ومنډۍ ، څو ځلې یې اوبو کې غوپې ورکړې او ده به چیغې وهلې بس بس عشق لاړ ، ابن اغلب وخندل بیا یې هم ورته د دېرشو دینارو دورکولو امر وکړ . (۶۷ص)

# شپونکی

یو ساده شپونکي د مېږو رمه د غر ه لمنه کې څر ځای ته بیولې وه ماښام مهال په داسې حال کې کور ته راستون شو چې امسا یې په غاړه کې اچولې وه او مېږې ورسره نه وې ، چاترې پوښتنه وکړه مېږې مو څه کړې ؟
شپونکي وویل : لا اله الا الله  زه هم.دا  وایم چې دا څه شی رانه غره کې په هېره پاتې شوی . (۷۳ص)

# د معلم ماغزه

جاحظ وایې یو ځل جنگ ته لاړو یو ښوونکی هم راسره ملگری شو ویل یې زما ارمان دی چې د جنگ ډگر ووینم ، کله چې جنگ پیل شو لومړی غشی د همدغه معلم پرسر ولگېد .
کله چې راستانه شو ده ته مو ډاکتر راوغوښت ډاکتر چې دی ولید ویې ویل : که دده په سر کې ماغزه وي او غشی ترې وباسو نو مړ به شي او که په سر کې یې ماغزه نه وي نو بیا کومه خبره نه ده .
معلم ور وړاندې شو ډاکتر یې پر تندي ښکل کړ .
ورته یې وویل : الله تعالی دې په خیراو خوشالیو ونازوه زما په سر کې ماغزه نشته .
معالج ډاکتر وویل : ولې ؟
ده وویل : ځکه زه معلم یم او د معلمینو په سر کې زره قدرې ماغزه هم نه وي او که زما په سر کې ماغزه وی نو زه به دلته نه وای.(۷۳ص)

# سل درهمه

وايې چې څه خلک يو کس ته ورغلل ورته يې وويل : زموږ دا خوښه ده چې فلانکي ته زر درهمه ورکړې او تر يو کاله يې و خندوې .

سړي ورته وويل : دا خو دوه حاجتونه دي !

زه به يې ستاسو له خاطره يو پوره کړم .

دا د زر درهمو خبره خو زما له وسه بهر ده او نه يې د ورکولو وړتيا لرم مګر هومره به يې و خندوم څومره چې د الله خوښه وي . (۷۴ص)

# صابر او شاکر څېرې دي؟

يوې ښائسته مېرمنې خپل بدرنګ خاوند ته وويل : زه هيله لرم چې زه او ته دواړه به جنت کې يو .

خاوند يې وويل : څه پوه شوې ، مېرمنې يې وويل :

دا ځکه چې الله تعالی زما په څېر ښکلې مېرمن تاته درکړه او تا شکر وويست ، او ستا په څېر بدرنګ خاوند يې زما په برخه کړ او ما صبر وکړ نو صابراو شاکر دواړه به په جنت کې وي .

# دوه کم عقلان

دوه کم عقلان په لاره کې ملګري شو، لاره اوږده وه يو هغه بل ته وويل : راځه چې د الله تعالی نه ځانګړې هيلې او دعاګانې وکړو ځکه اوږده لاره په خبرو لنډيږي .

يو وويل : زه الله تعالی نه غواړم چې د مېږو يو کنډک راکړي چې له شيدو ، غوښې اووړيونه يې ګټې ترلاسه کړم .

هغه بل وویل : زه الله تعالی نه غواړم چې د لېوانو یو کنډک راکړي چې په مېږو راولیږي تردې چې هیڅ یوه مېږه هم راپرېنږدي .
لومړي کم عقل ورته وویل :مړ شې دا د ملګرتیا او انډیوالی حق دی ؟ دواړو چیغې کړې او یو له بله سره په جګړه شو .
جګړه یې تر دې سخته شوه چې له ګریوانه یې سره ونیول.
بیا دواړه په دې راضي شو چې دې مېره کې لومړی هر څوک راښکاره شو هغه به زموږ منځ کې پرېکړه کوي .
څو شېبې وروسته یو بوډا راښکاره شو ، چې یو خر هم ورسره و .
او په خره یې شات بار کړي و .
دوی دواړو ورته خپله کیسه بیان کړه: هغه دواړه لوښي راښکته کړل او بیا یې خلاص کړل، تردې چې ټول شات په ځمکه توی شو او ویې ویل :الله تعالی دې زما وینې ددغه شاتو په څېر وبهوي که تاسو به کم عقلان نه یئ ! (۷۷ص)

# خوسکی

یو یهودي علی کرم الله وجهه ته وویل : دا څه وجه ده چې دخپل پیغمبر د وفات وروسته مو لا پنځلس کاله تیرشوي نه و چې خپل منځي جنګونه مو پیل کړ ؟!
علي رضی الله عنه ورته وویل : تاسو ولې داسې وکړ چې کله د موسی علیه السلام سره د رود نیل پر سمندر تېر شوئ پښې مو لا پر اوبو لمدې وې چې ومو ویل : یا موسی موږ ته یو معبود مقرر کړه لکه څنګه چې ددوی معبود دی.(۷۷ص)

# درې په درې

واېې چې معاویه رضی الله عنه خلکو ته په یو ټولنیز بیان کې وویل :
ای خلکو ! الله تعالی قریشوسره په دریوبنسټونو مینه کړې .
الله تعالی خپل نبی صلی الله علیه وسلم ته وویل:(وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴿٢١٤﴾ سورة الشعراء)
ژباړه:((خپل ډېر نیږدې خپلوان ووېروه.))
او موږ یې نېږدې قبیله او پرګنې یو....
الله تعالی ویلي:(وَإِنَّهُ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ﴿٤٤﴾ سورة الزخرف)
ژباړه:((حقیقت دا دی، چې دغه کتاب ستا لپاره او ستا د قوم لپاره یو ډېر لوی شرف دی.))
او موږ یې قوم یو .....
الله تعالی ویلي:(لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ﴿١﴾ إِيلَافِهِمْ ﴿٢﴾ سورة قریش)
ژباړه:((له دې امله چې قریش مینه ناک شول. دپردېسېومینه ناك.))
او موږ قریش یو....
یو انصاري ځواب ورکړ، ویې ویل:معاویه! ستاسو په لیکه! الله تعالی وایې:(وَكَذَّبَ بِهِ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ﴿٦٦﴾ سورة ال عمران)
ژباړه:((ستا قوم له هغه څخه انکار کوي، حال دا دی چې هغه حقیقت دی.))
او تاسو یې قوم یئ ....
الله تعالی ویلي:

(وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبْنُ مَرْيَمَ مَثَلاً إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ﴿٥٧﴾ سورة الزخرف)

ژباړه:((او د ابن مريم د مثال وړاندې کولو سره سم ستا د قوم خلکو پر هغه باندې شور زوږ جوړ کړ.)) او تاسو يې، قوم يئ... .

الله تعالى ويلي:(وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِى ٱتَّخَذُواْ هَـٰذَا ٱلْقُرْآنَ مَهْجُوراً﴿٣٠﴾ سورة الفرقان)

ژباړه:((او پيغمبر به ووايې، چې اى زما ربه! زما قوم دغه قران پرېښى و.)) او هم تاسو يې قوم يئ... .

درې په درې شو که تا څه زيات کړ، موږ به يې هم د زياتي ځواب درکړو.(۷۸ص)

## يمنى ښه وايې

معاويه رضى الله عنه يو يمني ته وويل: له تاسو جاهل قوم بل نشته چې ښځې پرتاسو حکومت کوي .

يمني وويل : زموږ له قوم نه ستاسو قوم ډېر جاهل دى هغه مهال چې محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم دين لور ته بلنه ورکوله دوى ويل: (ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَـٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ﴿٣٢﴾ سورة الانفال)

ژباړه:((خدايه که دا په رښتيا سره حق دى او ستا له لوري دى؛ نو پر موږ له اسمانه تيږې ووروه يا را باندې کوم دردناک عذاب راوله.))

داسې يې نه ويل:اى الله که دا ستا له لورې حق وي، موږ ته د دين په لور هدايت وکړې. (۷۸ص)

# زما ملګري؟

حجاج بن یوسف ته د خوارجو یوه مېرمن راوستلی شوه:
حجاج له خپلو مشاورینو نه وپوښتل: ددې ښځې په اړه څه نظر لرئ؟
مشاورینو وویل : امیر صیب ! په بیړه یې د وژلو فرمان صادرکړئ.
ښځه د وزیرانو د فیصلې په اورېدلو په خندا شوه
امیر حجاج وویل : همدا شېبه ؟
هغې میرمن وویل:حجاجه ! ستا دملګري وزیران ستا له وزیرانو نه غوره و.
حجاج وویل : زما ملګري څوک دي ؟
ښځې وویل : فرعون د موسی علیه السلام د وژلو په اړه له وزیرانو نه مشوره وغوښته .
هغوی ورته وویل:(أَرْجِهْ وَأَخَاهُ﴿٣٦﴾ سورة الشعراء).
ژباړه:( دی او دده ورور ایسار کړه). (۸۷ص)

# ادبي څپېړه

وايې چې کله د امام ابو حنیفه رحمه الله لمسی اسماعیل بن حماد بصرې ته ننوت وېې ویل :
هوډ مې کړی چې هغو کسانو ته تأدیبي سزا ورکړم چې مسئلوکې به یې د امام ابو حنیفه رحمه الله مخالفت کاوه .
یو کس ورته وویل : ایا ابو حنیفه رحمه الله خپلو مخلفینو ته تأدیبي سزاوې ورکولې ؟
اسماعیل بن حماد وویل : نه !

هغه کس ورته وویل : بیا نو لومړی خپل نفس ته ادب ورزده کړه څکه تا دامام ابو حنیفه رحمه الله مخالفت وکړ . ۹۰ص)

## ژرنده ګړی

وایې چې یو سړي غنم ژرندې ته د وړو کولو لپاره پر خر بارکړل ژرندې ته چې ورسېد ژرنده ګړي ته یې وویل: چې دا غنم راته وړه کړئ ؟

هغه وویل : زه اوس بوختیا لرم .

هغه مهال به ژرنده ګړی هم خر درلوده او ژرندې ته څېرمه به یې تړلی و که د چا به په کار شو ورکاوه به یې .

غنمو والا وویل : دا وړه کړه که نه دعا کوم چې الله تعالی دې له ژرندې او خره سره یو ځای تباه کړي

ژرنده ګړي ورته وویل : ستا دعا قبلېږي ؟

غنمو والا وویل : هو ؛

ژرنده ګړي ورته وویل : بیا نو دعا وکړه او ترې وغواړه چې غنم درته په وړو بدل کړي څکه هغې کې ستا د دین او دنیا ګټه ده . (۹۱ص)

## عملنامه

وایې چې په یو هېواد کې یو باندیځي ( کلیوال ) څه جرم کړی و د محاسبې لپاره راوستلی شو ، دجرم پېښه او جزئیات یې کتاب کې ثبت او دوسیه ورته واچول شوه ، کله یې چې حاکم ( قاضي) ته وړاندې کړای شوه کلیوال په بیا بیا وویل:

(هَآؤُمُ اقْرَؤُا كِتَابِيَهْ﴿۱۹﴾ سورة الحاقه).

ژباړه:((هه وګورئ، ولولئ زما عملنامه))

چا ورته وويل: سړيه! دا خو د قران ايت دی، د قيامت په ورځ به د عملنامو د وېش په مهال ويل کېږي.

کليوال وويل: ستا سو دا ورځ د قيامت تر ورځې ډېره بدتر ه ده !

خلکو په حيرانتيا وپوښتل هغه څنګه ؟

کليوال وويل : د قيامت په ورځ چې کله د محاسبې ډګر پرانيستل شي او عملنامې ورکول کېږي نوهغې کې به زما نېکيانې او بديانې ټولې ثبت وي .

اوس خو تاسو يوازې زما بدۍ راغونډې کړي او نېکيانې مو پرځای پريښې . (۹۱ص)

## د اهنګر بنۍ

وايې چې يو کس د شام په هېواد کې پر يوه هديره تېرېده پر يو قبر ليکلي و :

پام مو وي چې پر دنيا و نه غولېږئ ، زه د هغه چا زوی وم چې هواګانې يې په واک کې وې کله به يې چې خوښه شوه هواګانې به يې الوزولې او کله به يې چې زړه نه و بندولې به يې .

دې قبر ته څېرمه پر بل قبر ليکلي و :

ددې دروغجن پر خبره باور مه کوئ او داسې يقين هم مه کوئ چې دی د سليمان پيغمبر زوی دی

دا د اهنګر زوی دی پلار به يې په (بنۍ) کې هوا جمع کوله بيا به يې چې کله کار پيلوه د بنۍ په هوا به يې د اور سکروټې بلولې . (٦٦ص)

# بدبخته که نېک بخته؟

اصمصي وايې د (طويس) نه چا پوښتنه وکړه چې د سپېره توب دې مقام ته څنګه رسېدلی يې ؟
هغه وويل : د محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د زوکړې په ورځ زېږېدلی يم .
دابوبکرصديق رضی الله عنه دمړينې په ورځ له شيدونه پرېکړای شوی يم .
د عمر فاروق رضی الله عنه د شهادت په ورځ سنت شوی يم .
دعلي رضی الله عنه د شهادت په ورځ مې واده کړی او د حسين د شهادت په ورځ مې زوی پيداشوی. (۲۱۵ص)

# سره کړې غوښه

د روژې مياشت وه يو يهودي ګوري چې يو مسلمان د رمضان په ورځ کې وريته کړی شوې غوښه خوري يهودی ترېنه غوښتنه وکړه چې لږڅه ماته هم راکړه .
مسلمان ورته وويل :صاحبه ! زموږ حلاله تاسو ته روا نه ده .
يهودي ورته وويل :زه په يهوديانو کې داسې يم لکه ته په مسلمانانو کې . (۲۱۷ص)

# له عرش نه تر فرشه؟

یوه ورځ مقاتل بن سلیمان خپل علمي او پوهنیز مقام ته په پام په ډېر غرور رخپل مجلس کې ناستو خلکو ته وویل :

راځئ ! څوک چې د عرش نه لاندې تر تحت الثرای پورې څه پوښتنه لري زه حاضریم .

د خلکو له منځ نه یو کس پاڅېد وېې ویل : صاحبه ! موږ د عرش په اړه له تاسو پوښتنه نه کوو موږ ته یوازې د هغه څه په اړه معلومات راکړئ چې زمکه کې دي ؟

مقاتل په ډېر ورین تندي ورته وویل :

مرحبا مرحبا : هر کله راشئ خدای مو راوله !

څه مو چې خوښه وي پوښتنه وکړئ .

هغه سړي وویل : دا راته ځواب کړئ چې داصحاب کهف سره د ملګري شوي سپي رنګ څه ډول و ؟

مقاتل ورته وویل :والله ناکام دې کړم .

# ړوند او بینا

وایې چې دوه ملګري و یو بینا او دویم یې په سترګو ړوند و یوه شپه یې په تروږمۍ کې خرماګانې خوړلې .

ړوند وویل : زه خو څه نه وینم خو که څوک دوه دوه خوري د الله تعالی لعنت دې ورباندې وي .

کله چې خرماګانې خلاصې شوې ګوري چې د ړوند مخې ته د خرماګانو پراته زنې د بینا له زنو ډېر دي .

بينا ورته وويل : دا ستامخې ته دخوړل شويو خرماګانو زنې څنګه ډېردي ؟
ړوند وويل : دا ځکه چې ما درې درې خوړلې !
بينا وويل : تا ويلي نه و چې څوک دوه دوه خوري د الله لعنت دې وربانديې وي .
ړوند وويل : ما ويلي و خو درې درې مې نه وې يادې کړې . (۲۲۳ص)

## عقل د ايمان په پلوشو کې

دکتور عائض القرني ليکلي :
وايې چې درې زنديقان يانې د الله تعالى نه منکر کسان په لاره روان و هوري يې يو عالم وليد چې د ونې سيوري لاندې ويده دی .
دوی وپتيله چې دا عالم به ځوروو ، خپل منځ کې يې پرېکړه وکړه چې هر يو به ترې داسې پوښتنه کوئ چې ځواب يې ونلري .
دعالم څنګ ته ورغلل له خوبه يې راويښ کړ .
لومړي ورته وويل : زه الله تعالى نه وينم نو په نا ليدلي څنګه ايمان راوړم ؟
دويم وويل : څنګه د الله تعالى په وړاندې زما اعمال او کړنې ليکل کيږي او بيا پرې راسره حساب کوي او څنګه عذاب راکوي ؟
دريم وويل : دا چې پېريان له اور نه پيدا شوي دي نو په اور کې عذاب څنګه ورکول کيږي ؟
عالم ختـه په لاس کې راواخيسته او دوی يې پرې وويشتل .
دوی عالم ونيو او له ځانه سره يې د وخت والي ته بوتله .

دوی والي ته وویل : له دې نه مو درې پوښتنې وکړې ځواب یې رانکړ بلکې زیاتي یې پرختو وویشتو !
والي وویل : چې ځواب مو نه ورکاوه نو دوی مو په ختو ولې ویشتل ؟
عالم وویل : صاحبه ! ځواب مې ورکړی .
ددوی لومړي ملګري وویل : چې پر الله تعالی ځکه عقیده نلرم چې نه یې وینم نو ما وواهه .
هغه وویل : هو صاحبه ! وهلی یې یم او ډېر سخت یې دردولی یم .
عالم وویل : که چېرې ما په وهلو دردولی یې نو داد رد له کومه ځای شو ؟
زه خو هېڅ درد نه وینم بس نو ته نه یې دردمن شوی .
دویم وویل : عالمه ! زه مو ولې ووهلم ؟
عالم وویل : تا وپوښتل چې الله تعالی ماته په هغه څه څنګه عذاب راکوي چې زما لپاره یې له وړاندې لیکلي دي نو الله تعالی تا لپاره دا لیکلي و چې زه به دې وهم .
نو بیا شکایت ولې کوې ؟
صاحبه ! درېم رانه و پوښتل چې الله تعالی څنګه پیریانو ته ددوزخ په اور کې عذاب ورکوي حال دا چې دوی له اور نه پیدا شوي دي ؟
ماهم همداسې وواهه ، درېم وویل : عالمه ! زه مو ډېر ودردولم ، عالم وویل : ته له ختې پیدا شوی نه یې ؟
نو څنګه په خته دردېږې ، همداسې به الله تعالی پیریانو ته په اور عذاب ورکوي سره له دې چې له اور نه پیداشوي دي . (۲۰۴ص)

# د خراسان ډالۍ

یوه ورځ هارون الرشید په آس سپور و او کینې لورې ته یې جعفر بن یحی هم روان و هارون د لارې په اوږدو کې یوې قافلې سره مخ شو چې درانه درانه سوغاتونه په کې پراوښانو بار و .
هارون الرشید پوښتنه وکړه :
کاروان والا څوک دی ؟
ورته وویل : شو : دا د خراسان ډالۍ دي .
علي بن عیسی بن ماهان هارون الرشید بادشاه ته را استولي .
علي د هارون له خوا د فضل بن یحی وروسته دخراسان والي ټاکل شوی و .
رشید جعفر ته وکتل ورته یې وویل : دا ډالۍ ستا د ورور د واکمنۍ پر مهال چېرې وې ؟
جعفر ورته وویل : صاحبه ! دا ډالۍ د خپلو خاوندانو په کورونو کې وې . (۱۹۵ص)

# عیبجن غلام

یو سړي په بازار کې غلام اخیسته یو غلام یې خوبښ شو خرڅوونکي ته یې وویل : څخه عیب خو به پکې نه وي ؟
خرڅوونکي وویل : نه ، هېڅ عیب پکې نشته ، یوازې دومره خبره ده چې میتیازې بستره کې کوي .
اخیستونکي وویل : دا عیب نه دی چېرې چې بستره مومي میتیازې دې پکې کوي . (۱۷۴ص)

## خوږه خبره

وايې چې يو شاو ( واده والا )له خپلې ناوې سره د خوب خونه کې ناست و او دخپلې مور کيسې يې ورته پيل کړې وې،شپه شپبه په شپبه د پخېدو لور ته نږدې کېدله ، خو ناوه کې له خپل سيال نه داسې خبره نه اورېده چې زړه يې پرې تازه او غوړېدلی وي ، کيسې لا پسې اوږدېدلې زړه يې په تنګ شو .

په تنده لهجه يې خاوند ته وويل : د مور ددې کيسو پرته دې بله کومه وړتيا او خوږه خبره نلرې ؟

زلمي وويل : هو ! ولې نه،چې د مور کيسې مې خلاصې شي بيا مې درته د پلار کيسې کوم .(۱۷٦ص)

## درې کانې

وايې چې د قريشو يوه سوداګريزه ډله په سفر وتلې وه .

د بني غفار قبيلې يو کليوال هم ورسره د لارې ملګری و په مېره کې روان و چې ډېره تېزه سيلۍ پرې راوالوته سيلۍ ډېره خطرناکه وه تردې چې دوی له خپل ژوند نه ناهيلي شو .

ټولو وويل : که له سيلۍ نه روغ رمټ پاتې شو او مړه نه شو زموږ هر يو کس به يو يو غلام ازادوي .

د بني غفار قبيلې کليوال سړي غلام نه درلود اودرېد دعا يې وکړه :

ای الله ! زه خو غلام نه لرم چې يې ازاد کړم .

مګر مېرمن مې ستا د رضا لپاره په دريو کانو طلاقه ده .(۱۷٦ص)

# پګړی

یوې مېرمن ته لیک ورغی خو دا مېرمن په لیک لوست نه پوهېده ګوري چې په یوه لویه لاره پر یو خر سړی سپور دی فزیکي بڼه یې ښه برابره او غټه پګړی یې وهلې وه .

مېرمن دغه لاروی سړي ته د ودرېدلو اشاره وکړه ، هغه ودرېد ورته یې وویل : ښاغلیه ! که دا لیک راته ولولې چې څه پکې لیکلي دي خوشحاله به شم .

سړي وویل : بښنه غواړم زه په لیک لوست نه پوهېږم .

مېرمن په حیرانتیا وویل : دومره غټه پګړی په سر او په لیک لوست نه پوهېدل ؟!

خروالا سره نوره څه بهانه پاتې نه شوه ،سرته یې لاس کړ پګړی یې له خپل سر نه ښکته او خر

ته یې ور په سر کړه ، بیا یې وویل : خره ! مهرباني وکړئ لیک ورته ولولئ . (۱۷٦ص)

# هنرمند ګیدړ

امام شافعي رحمه الله وایې:یمن ته له ملګرو سره تللی وم .

یوه ورځ مو ماښامنۍ ډوډۍ په داسې وخت کې برابره شوه چې د ماښام د لمانځه وخت هم و ،موږ لمانځه ته ودرېدو .

ملګرو وویل :لومړی به لمونځ وکړو بیا به ماښامنۍ وخورو .

په دې شپه مو دوه چرګان پاخه کړی و او په دسترخوان ایښي و، موږ چې دلمانځه نیت وتړه ګیدړ راغی یو چرګ یې خوله کې ونیو موږ چې دلمانځه نه وزګار شو ډېر خواشیني شو .

ټولو ملګرو وویل :نن د ماښامنۍ خواړو نه بې برخې شو موږ خپل منځ کې همدا خواشيني غبرګوله چې ګيدړ راغی او چرګ ته ورته څه یې په خوله کې نیولي و هغه يې پر ځمکه کېښود موږ په بيړه ورمنډه کړه چې دا څيز راوخلو او داسې ګومان مو کاوه چې زموږ نه تختولی چرګ يې بېرته راوړی دی .موږ هاخوا اېښودل شوي څيز پسې لاړو ګيدړ دسترخوان ته ورغی هغه بل چرګ يې هم خوله کې ونیو او لاړ .

موږ چې هغه څيز ته ورسېدو ګورو چې د خرما له پټ نه يې د چرګ په ځېر يو شی جوړ کړی او هلته ایښی و . (۱۷۸ص)

## موري! موري!

يوې جلۍ په ډېره منډه کورته لاړه غږ يې وکړ ، موري ! موري !

زموږ د کور مخې ته هغه کنده څه نومېږي ؟

مور ځواب ورکړ : لورجانې ! زه دېګ پخوم لاړه شه پلار جان نه دې پوښتنه وکړه .

ماشومه جلۍ پلار ته ورغله ورته يې وويل : پلاره ! هغه زموږ د کور مخې ته ژوره کنده څه نومېږي ؟

پلار ځواب ورکړ : لورې ! زه ورځپاڼه لولم لاړه شه خورجانې نه دې پوښتنه وکړه .

ماشومه جلۍ خور ته ورغله ورته يې وويل : خورجانې ! زموږ د کور مخې ته هغه کنده څه نومېږي ؟

هغې ځواب ورکړ : قندولکې ! هغې ته ساه (کوهی) وايې

ماشومې جلۍ په ژړغوني انداز ځواب ورکړهله ژر کوه چې وړوکې خوره کی مې کوهي ته غورزېدلې ده ، (۱۷۵ص)

# زما تنابونه اوړده دي

وايې چې يوه ورځ يو کليوال سړي د ډوډۍ خوړلو پر مهال د يزيد بن مزيد مېلمه شو کله چې د سترخوان و غوړېده يزيد خپلو ملګرو ته وويل : هلکه لږ و خوځېږئ چې دا سړی هم ځای شي ،

کليوال وويل : مه خوځېږئ زما تنابونه(يانې لاسونه)اوږده دي .

غوښتل يې چې نوري په يو لوښي کې لمده او بيا يې وخوري لوښي دده له مخې نه لرې و ده وريسې لاس وروغځاوه له بد نصيبه چې د لاس غځولو سره ترېنه باد لاړ .

يزيد وخندل کليوال سړي ته يې وويل : ګومان کوم چې کوم تناب دې وشلېده. (۱۸۲ص)

# قراني ځواب

حجاج پر خپل منبر وليد چا ورته ليکلي و:

(قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيلاً إِنَّكَ مِنْ أَصْحَابِ ٱلنَّارِ﴿۸﴾ سورة الزمر)

ژباړه:((هغه ته ووايه چې لږې ورځې له خپل کفر نه خوند واخله، ته په يقيني ډول دوزخ ته تلونکی يې.))

حجاج ترې لاندې وليکل:

(قُلْ مُوتُواْ بِغَيْظِكُمْ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ﴿۱۱۹﴾ سورة ال عمران)

ژباړه:((هغو ته ووايه چې د خپلې غوسې په تاو کې ومرئ، الله آن د زړونو په پټو رازونو پوهېږي.) (۷۷ص)

# د ښکلا لمر

وايې چې حافظ ابراهيم د محمدامام العبد نه پوښتنه وکړه:
محمد له رنګه تور و حافظ ورته وويل : تاسو ولې واده نه کوئ ؟
محمد ځواب کې وويل :

يا خليلي وانت خيرخليل: ای زما دوسته ته غوره دوست يې.
لا تلم راهباً بغيردليل: راهب له دليل پرته مه ملامتوه.
اناليل وكل حسناً شمس: زه شپه يم او هر ښکلی دلمر په څېر دی.
فاجتماعي بها من المستحيل:نو دلمر او شپې يو ځای کېدل ناشوني دي.(۲۳۷ص)

# شپږم بد بخته

وايې چې مطلب بن محمد مکه مکرمه کې د قاضي په صفت دنده ترسره کوله او يوې داسې مېرمن سره يې واده کړی و چې له ده وړاندې يې څلورو نورو مېړونو ته په خپل لاس زنې ورتړلې وې .
داسې ورځ راغله چې قاضي مطلب د مرګ په ناروغۍ اخته شو مېرمن يې سرته ناسته وه او په چيغو چيغو يې ژړل خاوند ته يې په ژړا کې ويل : وی وی سريه !
ته ما چاته پرېږدې ؟
خاوند ورته وويل : شپږم بد بخت ته .

# اُف

يوې مور خپل زلمي زوی محکمې ته لاس نيولی بوته.
قاضي ته يې وويل : قاضي صيب ! دا زوی مې زما ډېره نافرماني کوي.
قاضي زلمي ته وويل: هلکه تا نه دي اورېدلي، چې الله تعالی وايې:

(فَلاَ تَقُل لَّهُمَآ أُفّ﴿۲۳﴾ سورة بني اسرائيل)
ژباړه:((نو هغو ته أف قدرې مه وايه.))
زلمي مور ته په مخ یوه سخته څپېړه ورکړه.
او ورته يې وويل: بې انصافې! ما کله تاته أُف ويلی؟! (۲۳۶ص)

## ساده ګل

يو ساده کليوال دعا کې داسې وويل : ای الله ! يوازې ما وښښې چاورته وويل : ولې عمومي دعا نکوې ؟ چې ټول خلک پکې ياد کړې ځکه الله تعالى پراخه رحم او ښښنې والا دی .
ساده ګل وويل : نه غواړم چې په رب مې بوج راشي . (۲۳۳ص)

## د ګيدړ دم

يو کليوال سړي باندې ګيدړ داړې ښخې کړې وې ډېر وارخطا و يو دم ګري ته ورغی هغه ترې پوښتنه وکړه څه شي چيچلی يې ؟
ده ورته وويل : څيروونکي ځناور
په دې شرمېده چې ووايې ګيدړ داړلی يم ، دم ګري چې دم شروع کړ سړي ورته وويل :صيبه ! د ګيدړ له دم نه پکې هم څه ورګډ کړه.(۲۳۲ص)

# قرباني

وایې چې عبدالملک بن مروان د مسجد اقصاء لپاره یوه دروازه جوړه کړې وه حجاج راغی د هغه په مقابل کې یې د هغه دروازې په څېر بله دروازه جوړه کړه اسماني تندر راغی د عبدالملک جوړه شوې دروازه یې وسوزوله او د حجاج دروازه جوړه پاتې شوه ، عبدالملک ډېر غوسه شو ویې ویل :

دا څه خبره ده چې زما دروازه سوزي او دحجاج دروازه روغه پاتې کیږي .

حجاج عبدالملک ته لیک واستاوه ، داسې یې پکې لیکلي و :

خبرشوی یم چې اسماني اور د امیرالمؤمنین دروازه سوزولې ده او د حجاج دروازه یې نه ده سوزولې اوس نو زموږ مثال داسې دی لکه د ادم علیه السلام د دوو زامنو مثال:

(إِذْ قَرَّبَا قُرْبَاناً فَتُقُبِّلَ مِن أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ ٱلآخَرِ﴿۲۷﴾ سورة المائدة)

ژباړه:((کله چې هغوی دواړو قرباني وکړه، نو له هغو څخه د یوه قرباني قبوله شوه او د بل قبوله نه شوه.))

کله چې امیر المؤمنین عبدالملک بن مروان په دې راز پوه شو ډېر خوشحاله شو (۲۰۹ص)

# خوږه او ترخه

یو سړي دوه سکنیو ورونو ته وکتل یو یې ډېر ښکلی و او هغه بل یې ډېر بدرنګ و .

دواړو ته یې وویل:ستاسې مور هغې ونې ته ورته ده، چې یو کال خوږه مېوه نیسي او بل کال ترخه .

# اسماني تندر

وایې چې مشهور ټوکي طفیلي دداسې خلکو یوې ډلې ته ورغی چې ډوډۍ یې کور کې خوړله او دروازه یې بنده کړې وه .

طفیلي پردېوال ورجګ شو ورته یې وویل : د زمکې له لارې مو بند کړم زه درباندې د اسمان له طرفه راغلم . (۲۰۸ص)

# رانجه

یو سړي د ګېډې د درد له امله ډاکتر ته ورغی ، ډاکتر ترې وپوښتل څه دې خوړلي ؟

ناروغ وویل : سوزیدلې ډوډۍ مې خوړلې .

ډاکتر وویل : د رانجو کڅوړه راوغوښته چې سترګې ورته توري کړي .

ناروغ وویل : ډاکتر صیب زما ګېډه خوږیږي نه سترګې .

ډاکتر وویل : پوه شوم خو رانجه ځکه درته کوم چې سوزېدلې ډوډۍ ووینې او بیا یې ونه خوري.

## مړشي ډاکتر ښه پوهېږي

وایې چې یوه زړه کونډه ښځه ناروغه شوه زوی یې ورته ډاکتر راوست ډاکتر ګوري چې ښځې ښکلې رنګینه جامې اغوستي او په رنګارنګ ګاڼو یې ځان سینګار کړی .

ډاکتر پوه شو چې بوډۍ څه تکلیف لري ؟!

ډاکتر وویل : خاوند ته خو څه اړتیا نه لرې؟

زوی یې وویل : زړې ښځې په خاوندانو څه کوي .

مور یې وویل : زویه مړشي ډاکتر له تا نه ښه پوهېږي .

## پیغمبره؟!

د مامؤن الرشید په زمانه کې یوې ښځې د پیغمبرۍ دعوه وکړه .

عسکرو هغه ښځه د مامؤن الرشید دربار ته حاضره کړه .

مامؤن ورته وویل : ته څوک یې ؟

هغې وویل : زه فاطمه پیغمبره یم .

مامؤن ورته وویل : ته پر هغه څه ایمان لرې چې محمد صلی الله علیه وسلم راوړي.

هغې وویل : هو کوم شریعت چې محمد صلی الله علیه وسلم راوړی هغه ټول حق دي .

مامؤن ورته وویل : محمد صلی الله علیه وسلم ویلي : زما وروسته بل پیغمبر نه راځي .

فاطمې وویل : رسول الله صلی الله علیه وسلم ربښتیا ویلي و خو ایا داسې یې ویلي چې زما نه وروسته بله پیغمبره نه راځي ؟

مامؤن دربار کې ناستو خلکو ته په حيرانتيا وکتل وېې ويل :
زما دلايل خو ختم شو که چاسره نور څه دلايل وي ميدان ته دې راوړاندې شي او پر خپلې ناکامۍ يې دومره وخندل چې اخر يې مخ پر څادر پټ کړ .(۲۵۶ص)

## دينار مړشو

اشعب وايې : يوې وينځې راته يودينار راوړ او راته يې وويل:دا به تاسره امانت وي .
اشعب وايې : ماهغه دينار تر خپلې بسترې لاندې کړ څه موده وروسته راغله راته يې وويل :کاکا جانه ! هغه زما دينار راکړه ؟
ماورته وويل : لاړه شه زما بسترې لاندې هغې بچې زېږولي بچي يې راواخله .
اشعب وايې :ما دهغه دينار څنګ کې بل درهم اېښی و دې درهم واخيست او دينار يې پرېښود څو ورځې وروسته بيا راغله يو بل درهم ورسره و هغه مې ترې هم واخيست ،دريم ځل هم همداسې وشو .
څلورم ځل چې کله راغله ما ژړل زه يې چې په ژړا وليدم پوښتنه يې وکړه :ولې ژاړې؟
ماورته وويل :ځکه ژاړم چې هغه ستا دينار د نفاس مرض کې مړ شو .
هغې په حيرانتيا وپوښتل دينار څنګه نفاس لري ؟
ما ورته وويل : کم عقلې ! د بچي راوړل يې منې او نفاس يې نه منې.(۲۵۴ص)

# شيطاني مه کوه

وايې چې دوه کليوال د بيت الله نه د طواف په مهال داسې دعاګانې کولې.

يويې ويل : اى الله دخپل رحمت په وسيله ماته ښښنه وکړه ځکه ته له مانه پرته نور خلک هم لرې چې عذاب ورکړې ،او زه بې چاره له تا پرته بل داسې څوک نه لرم چې پرما رحم وکړي .

دويم ملګري ورته وويل : خپل حاجت دې پوره کړه او دنورو خلکو شيطاني ورته مه کوه.(۲۵۰ص)

# خپل لمونځ کوه

وايې چې يوه حجره کې ډېر خلک ويده و يوکس ترېنه راپاڅېده اودس يې وکړ بيا د تهجدو لمانځه ته ودرېد،دعا يې وکړه :

اى الله! ته خو پوهېږې چې د ژمې په دې يخه شپه کې يوازې زه له ګرمې بسترې نه راپاڅېدلم ،په يخو اوبو مې اودس وکړ اوس تاته ولاړ يم او دا نور ټول ويده دي.

يو کس پسې له بړستنې نه سر راښکاره کړ ورته يې وويل :

شيطانه خپل لمونځ دې کوه موږ ورته څه لپاره ښايې .

# بې خيره کور

يو سوداګر يو کور ته ورغی دروازه يې ووټکوله غږ يې وکړ لږ خيرات راوړئ چې اوږی يم

کور والا ځواب ورکړ : موږ تر اوسه ډوډی پخه کړې نه ده .

سوالګر وويل : يو موټی ستوان راوړئ .

کور والا وویل : ستوان نه لرو.

سوالگر وویل : یوګوټ اوبه خو راوړئ چې ډېر تږی یم .

کور والا وویل : لا ګودر نه مو اوبه راوړې نه دي .

سوالگر وویل : خیر لږ تېل خو راوړئ چې دسرویښتان پرې غوړ کړم .

کور والا وویل : تېل له کومه شو .

سوالگر ورته وویل : بیا نو دلته څه له ناست یئ ؟!

راځئ ! پاڅېږئ له ما سره سوال ته ووځئ . (۲٦۵ص)

# روژه

یو کلیوال سړي لمونځ کاوه نو هلته نږدې ناستو خلکو یې ستاینه وکړه چې ډېر ښه او پرهېزګاره انسان دی .

سړي چې خپل صفت واورېد لمونځ یې پرې کړ سلام یې وګرځاوه .

او وېې ویل : ددې سربېره روژه هم یم .

# د فرعون ګاونډی

وایې چې یوسړي دوخت قاضي ته له خپل ګاونډي څخه شکایت وکړ .

قاضي ورته وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم د ګاونډي سره د ښه سلوک وصیت کړی .

هغه سړي وویل : صحیح ده خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ګاونډي ابوبکر او عمر وه او زما ګاونډی فرعون او هامان دي .

# د مجوسي پلار

د یو مجوسي پلار مړ شوی وه مسلمان ورته وویل : کور دې خرڅ کړه د پلار قرضونه دې ادا کړه .

مجوسي وویل : بیا به مې پلار له اور څخه ووزي ؟

مسلمان ورته وویل: نه

مجوسي وویل : بیا نو کور نه خرڅوم پلار مې دې په اور کې پاتې وي.

# چولو والا

وایې چې یوه ورځ یو سړي د چولې خرڅوونکي دوکان ته ورغی او یوه غوټه پیاز یې ترې وغوښته چولې خرڅوونکي د پیازو غوټه ورکړه سوالګر د دوکان شاته تاو شو هلته یې د پیازو غوټه په منځ نیمه او دوه ځایه کړه بېرته چولې خرڅوونکي ته راغی د پیاز غوټې نیمایې یې ورته وړاندې کړه د چولو غوښتنه یې ترې وکړه دوکاندار ورته چولې ورکړې .

سوالګر نیمایې غوټه په بل لاس کې نیولې وه هغه یې فوال ته وړاندې کړه او د ډوډۍ غوښتنه یې ترې وکړه .

چولو والا په خندا شو،سوالګر ته یې وویل : ګناه ستا نه ده ګناه د هغه چا ده چې ته یې د شتمنۍ خاوند کړې .

# د بنیادمانو نسل

وایې چې ابي العینا ځنګ ته یو سړی راغی دا په داسې حال کې چې ابي عنیاء په سترګو ړوند وه او مرستې ته یې اړتیا لرله .

هغه کس ورسره ډېره مرسته او ښه سلوک وکړ،ابي العنیاء ډېر خوشحاله شو ترې یې وپوښتل ته څوک یې ؟

هغه وویل : زه یو بنیادم یم ابوالعنیاء ورته وویل : سترې مه شې . الله تعالی دې هر کله راوله الله تعالی دې د اوږد ژوند خاوند کړه زما خو دا یقین نه راځي چې دا نسل دی تر اوسه پاتې دي .

## لقمان

وایې چې یو کلیوال سړي ابواسد الدوئلي سره ډوډۍ خوړله ابوالاسود هغه سړي ته کتل چې ډېرې نااشنا او غټې غټې نوړۍ یې پورته کولې دی ورته حیران وه چې دا لا څه کوي .

هغه کس ته یې وویل : ستا څه نوم دی ؟

هغه وویل : لقمان ابوالاسود ورته وویل کورنۍ مو دربانديې ډېر سم نوم ایښی ته لقمان یعنې غټې غټې لقمې پورته کوې .

## د خراسان والي

وایې چې خلیفه منصور یو کس خراسان ته د والي په صفت واستاوه څو ورځې وروسته ورته یوې ښځې د خپلې بې وزلۍ او اړتیا یادونه وکړه خوله والي سره څه نه وه چې له هغې مېرمن سره یې مرسته کړې وی .

هغه ښځې ترې وپوښتل : تاسو پوهېږئ چې امیرالمؤمنین د څه لپاره د والي په صفت مقرر کړی یې ؟

والي وویل : نه !

ښځې وویل : ددې لپاره  گوري چې د خراسان چارې له والي پرته جوړېدای شي که نه .

# امام ابو حنیفه رح

یوه ورځ امام ابوحنیفه رح ناست وه او خپله پښه یې غزولې وه .
هغه مهال یو شمله ور سپین ږیری د مجلس خونې ته ورننوت چې د ځرګندې څېرې له مخې ښه عالم معلومېده امام ابوحنیفه رح د سپین ږیري مشر په احترام پښه راټوله کړه سپین ږیري وپوښتل د روژې د ماتولو وخت کله وي ؟
امام ابو حنیفه رح ورته وویل : کله چې لمر ډوب شي .
سپین ږیري وویل : که چېرې لمر تر نیمې شپې پورې ډوب نه شي نو بیا ؟
ابو حنیفه وویل : اوس نو ابو حنیفه ته پکار ده چې پښه وغزوي .

# ایت الکرسي

وایې چې د یو سړي نه خورجین غلا شوی وه یو کس ورته وویل : که ایت الکرسي دې پرې لوستې وې نو بیا به درڅخه نه وي غلا شوی .
هغه سړي وویل : صیبه! ته د ایت الکرسي خبره کوې ټول قران پکې وه .

# جنازه

یو سړي له یو عالم نه پوښتنه وکړه د جنازې نه مخکې تګ غوره دی که وروسته او دا راته ووایۍ چې زه ترې مخکې لاړ شم که وروسته ؟
عالم ورته وویل : فقط د جنازې پر کټ مه ورسپرېږه نوره ستا خوښه ده چې مخکې ځې که وروسته .

# غوایان

وایې چې مشهور طنز ویونکي عتابي یوه ورځ د شام په دروازه کې ولاړ وه او ډوډوی یې خوړله .

یو ملګري یې ورته وویل : مړ شې حیا نه درځي نه شرمېږې چې د عامو خلکو په منځ کې په ولاړه ډوډوی خورې ؟

عتابي ورته وویل : له تا څخه یوه پوښتنه کوم که چېرې موږ د کور په یوې داسې حویلۍ کې یو چې په هغې کې غوایان هم دي ته به حیا کوې او ددې له امله به خواړه پرېږدې چې هغه تا ویني .

ملګري وویل : هېڅکله نه

عتابي ورته وویل : بیا نو لږ صبر وکړه چې تا پوه کړم چې دوی غوایانو ته ورته دي،عتابي په ځای ودرېده، زړه راښکونکی وعظ یې وکړ خوندورې کیسې او طنزونه یې وویل او خلک یې خپل لور ته راوبلل تردې چې ډېره سخته ګڼه ګونه پرې جوړه شوه بیا یې دوی ته وویل : یو کس راته وویل :چې څوک خپله ژبه دومره راکش کړي چې د پوزې سر ته یې ورسوي هغه به د دوزخ اور ته داخل نشي ،ددې خبرې په اورېدو سره هر کس کوشش کوه چې خپله ژبه راوباسي او د پوزې سر ته یې ورسوي هر کس به د خپلې خولې نه ژبه راکش کوله او بیا به یې اندازه کوله چې د پوزې سر ته رسېدلې که نه ټولو خلکو ډېر زیات [illegible] چې په دې چاره بریالي شي خو هر یو کس د ډېرې ستړیا [illegible] ته ناهیلي روان شو کله چې ټول خلک خواره واره شو عتابي خپل [illegible] ته ووېل : ما درته نه وه ویلي چې دوی غوایان دي .

# کفن کش

وایې چې د سعید بن العاص بادار مریض شو او داسې څوک یې نه لرل چې دده خدمت وکړي سعیدبن العاص ته یې خبر واستاوه هغه ورته راغی ده ورته ورته وویل : له تاسو پرته بل وارث نلرم یو راز هم درته وایم له ماسره دیرش زره درهم دي او هغه مې په دې کور کې ښخ کړي که زه مړشم نو هغه واخلئ.

کله چې سعید له کوره وته ویې ویل : موږ څومره فکر وکړ له خپل مولا د شان مناسب خدمت مو نه دي کړي او له ده سره مو په وعدو کې ژمنتیا نه ده ښکاره کړې په هر حال بشپړ ژمنه یې ورسره وکړه او ددې خدمت ته یې یو کس وګماره کله چې داسړی مړ شو په درې سوه درهم یې ورته ښه عالي کفن واخیست، جنازې ته یې حاضر شو او تر هدیرې پورې یې په درناوي بدرګه کړ سعید بن العاص هدیرې نه دهغې کور ته ورستون شو او په زړه کې یې د دراهمو مینې مستي پیل کړې وه کور ته ننوت ټول کور یې په بېلچو او کولنړونو کندې کندې کړ خو له بده مرغه چې هېڅ هم لاسته ورنغله په همدې شېبو کې د کفن والا پیسو پسې راغی سعید بن العاص ورته وویل : زه هم څه نه لرم خو اراده مې کړې چې قبر وسپړم او کفن ترې وباسم .

# د بیزوګانو والي

وایې چې ابو نواس د دارالخلافت نه بهر وتلی و رقاشي مشهور شاعر هم ورپسې و رقاشي ورغږ کړ ابو علي زیری مې دربانديې څو شپې وړاندې خلیفه تاته ولایت وسپاره .
ابو نواس وویل : مړ شې کوم ولایت ؟
رقاشي وویل : ته يې د بیزوګانو او خنزیرانو والي مقرر کړې .
ابونواس وویل : سمه ده ته به مې د رعیت ځانګړیو نږدې او مخورو کسانو څخه يې بس خبره مې اوره او حکم مې منه .(۲۰۹ص)

# غلا شوی خر

یو غل خر غلا کړی و ،بازار ته یې د خرڅلاو لپاره یوړه له ده نه بازار کې بل چا پټ کړ سړی ډېر ناهیلی له بازاره راستون شو یو چا ورته وویل : هلکه خر دې په څو خرڅ کړ؟
غل وویل : په خپل سر یعنې دا مانا چې بې عوضه يې خرڅ کړ .

# پای